واعلم: أنّ ما في يدك عقدة العطار، وتجد فيه ما كنت في طلبه.

خاصيات الأبواب

ليکوال:

مفتي خادم احمد «سعید» عفی عنه

د کندهار د جامعه ابراهیم «النخعي» د تخصص «دکتوراه» څخه فارغ.

ناشر

المکتبة الحبیبیة ارګ بازار کندهار

دکتاب پېژندنه:

د کتاب نوم: خاصيات الأبواب.

دجمعه کوونکي نوم: مفتي خادم احمد «سعيد» عفى عنه

دمخونو شمېر: دوشپېته «۶۲».

کمپوزنګ: لیکوال په خپله.

د چاپ کال: (۲۰/ذوی الحجة/۱۴۴۶هق) الموافق (۲۰۲۵/۶/۱۷م).

دچاپ وار: اول

خپرونکي اداره: خُدّامُ القرآن خپرندویه اداره

د تماس شمېري: (۰۷۴۹۹۳۰۵۵۱) او (۰۷۰۶۹۸۰۷۵۸).

نشرکوونکی: المکتبة الحبیبیة آرګ بازار، کندهار، افغانستان.

د چاپ شمېر: (۱۰۰۰) زر عدده

د ترلاس کولوځایونه: المکتبة الحبیبیة آرګ بازار کندهار ،او د افغانستان مشهوره کتابخانې.

د نشرکوونکي درابطې نمبرونه: (۰۷۹۹۴۴۷۴۱۳) او (۰۰۹۲۳۱۷۸۰۰۴۰۱۲)

پاملرنه: دکتاب د چاپ ټول حقوق د ناشر سره محفوظ دي.

انـــتساب:

و هر هغه چاته چې زمايې علمي، ذهني، روحاني، تربيتي ،جهادي او بدني روزنه کړې ده ،او په دغه کې يې خپل ځانګړی رول لوبولی دی ،لکه: زما مور او پلار او زما محترم او مشفق استادان.

الاعتذار:

(مَن صَنَّفَ فَقَد استُهدِفَ)

ژباړه :چاچي تصنيف وکړی هغه دخلګو هدف وګرځول سو.

يعني: څوک چي په کوم علم کي تصنيف او ليکنه وکړي نو له هرې خوا دخلګو د اعتراضونو هدف وګرځي او پرده باندي داعتراضاتو او نيوکو باران شروع سي.

داچي موږ په دې رساله کي ترخپله وسه او طاقته پوري بشپړه خواري کړې ده ،ليکن بياهم اخير د انسان کتاب د غلطۍ څخه خالي او پاک نه وي، نو دټولو هغو ورونو او خويندو څخه چي دا رساله ګوري يا يې کتلې وي ، هيله کوو چي په دغه رساله کي هر قسم غلطي وي ، لکه : لفظي ، حکمي ، املائي کمپيوټري او نور ... د الله – جل جلاله –لپاره زموږ سره په لاندي شمېرو اړيکه ونيسئ ، د دې لپاره چي موږ يې په راروانه طبعه او چاپ کي تصحيح وکړو . مننه

داړيکو شمېرې : ۰۷۰۶۹۸۷۵۸او ۰۷۴۹۹۳۰۵۵۱

هيله:

تاسو ټولو ته بهتره معلومه ده چې يو انسان ټول کارونه نشي ترسره کولای، ترڅو بل انسان د ده سره همکارې ونه کړي نو زموږ تدريسي خدمات، انتظامي، دعوتي، افتاء، د تصنيف تاليف او داسي نور ټول خدمات زموږ هيڅ کمال نه دی بلکي زموږ د والدينو، ورونو، او په زړه پوري ملګرو همکارې ده، چې موږ يې دغه خدماتو ته فارغ کړي يو، په همدې اساس له ټولو کتونکو څخه ډېره عاجزانه هيله کوو چې دوی ټول په خپلو نيکو دعاګانو کي تل ياد وساتي.

او په اخير کي له ټولو هغو مسلمانانو ورونو او ملګرو نه، چې د موادو په راټولولو، کمپوز، ترتيب، چاپ، او نيکو مشورو کي يې زموږ لاسنيوی کړی، او يا يې کوي، دزړه له تله مننه کوو.

ستاسو د دعاګانو په هيله ستاسو کشرورور مفتي خادم احمد «سعيد» عفی عنه

دموضوعات نوملړ:

Table of Contents

١. **الاعتذار:**.....**٤**

٢. **هيله:**.....**٥**

٣. **دموضوعات نوملړ:**.....**٦**

٤. **ســريــزه:**.....**٩**

٥. **د خاصې تعريف (پيژندل):**.....**١١**

٦. اول د نَصَرَ يَنْصُرُ (فَعَلَ يَفْعُلُ) باب دی.....١٣

٧. دويم د ضَرَبَ يَضْرِبُ (فَعَلَ يَفْعِلُ) باب دی.....١٤

٨. دريم د سَمِعَ يَسْمَعُ (فَعِلَ يَفْعِلُ) باب دی.....١٥

٩. **څلورم** د كَرُمَ يَكْرَمُ(فَعُلَ يَفْعُلُ)باب دی.....١٥

١٠. **پنځم** باب د فَتَحَ يَفْتَحُ (فَعَلَ يَفْعَلُ) دی.....١٧

١١. **شپږم باب** د حَسِبَ يَحْسِبُ(فَعِلَ يَفْعِلُ) دی.....١٨

١٢. دثلاثي مزيدفيه دبابونو خاصيات ٢٠

١٣. **چې دغه ټول** دولس (١٢)بابونه دي:.....٢٠

١٤. اول د اِفْعَال باب دی..... ٢٠
١٥. د دغه باب لپاره **پنځلس** خاصيات دي:..... ٢٠
١٦. دوهم باب د تَفْعِيْلٌ دی..... ٢٩
١٧. داباب دیارلس خاصيات لري..... ٢٩
١٨. دریم باب مُفَا عَلَةٌ دی..... ٣٣
١٩. **داباب څلور** خاصيات لري..... ٣٣
٢٠. **څلورم** باب تَفَعُّلْ دی:..... ٣٦
٢١. داباب یوولس خاصيات لري..... ٣٦
٢٢. **پنځم** دتَفَاعُلْ باب دی..... ٤٠
٢٣. **داباب پنځه** خاصيات لري:..... ٤٠
٢٤. **شپږم** باب دافتعال دی..... ٤٣
٢٥. **داباب شپږ** خاصيات لري:..... ٤٣
٢٦. اووم باب دِاسْتِفْعَال دی. ٤٦
٢٧. داباب لس خاصيات لري :..... ٤٦
٢٨. اتم باب اِنْفِعَالْ دی..... ٤٩
٢٩. **دا باب پنځه** خاصيات لري : ٤٩

٣٠. نـــهـــم دِافْعِلَالْ بـــاب دى..... ٥١
٣١. **داباب ثلور** خاصيات لري:..... ٥١
٣٢. لـــســـم بـــاب اِفْعِيْلَال دى..... ٥٢
٣٣. يـــوولـــســـم بـــاب اِفْعِوَّال دى..... ٥٢
٣٤. ددې باب درې خاصيات دي:..... ٥٢
٣٥. دولـــســـم بـــاب دِافْعِيْعَال دى..... ٥٣
٣٦. داباب درې خاصيات لري:..... ٥٣
٣٧. دربـــاعـــي مـــجـــرد خـــاصـــيـــات: ٥٤
٣٨. دربـــاعـــي مزيـــد فـــيـــه دبابونو خـــصـــوصـــيـــات..... ٥٥
٣٩. اول دتَـــفَـــعْـــللُ دبـــاب دى..... ٥٦
٤٠. داباب درې خاصيات لري :..... ٥٦
٤١. دوهـــم بـــاب دِافْـــعِـــنْـــلَالٌ دى..... ٥٧
٤٢. دغه باب هم درې خاصيات لري :..... ٥٧
٤٣. **دريـــم** بـــاب دِافْـــعِـــلَّا ل دى:..... ٥٨
٤٤. د مولف نور علمي اثار: .. Error! Bookmark not defined.

سريزه:

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي جعل لنا علوم القرآن والحديث من المقاصد،وجعل بقية العلوم من مباديها اما بعد:

داچي ډېر وخت زما سره په درس او تدريس کي،دعلم صرفو مشهوره کتابونه ارشاد الصرف،او مراح الأرواح وو،دهغوی کتابونو د لاښه معياري ويلو لپاره ،موږ يوه رساله په نامه د (علامات الأبواب) وليکل، شاګردانو ته مو دنورو سبقانو ترڅنګ په ښه معياري طريقه وويل ،او شاګردان هم ډېر ورڅخه خوشحاله وه او استفاده يي ورڅخه وکړل،نود دغه شاګردانودا خواهش او ارزو وه چي د فصول اکبري او شافيې د شاګردانو لپاره هم بايد يو داسي شی وليکل سي،چي هغوی ته بيا (خاصيات الأبواب) دغه رنګه هوسا او په اسانه طريقه زده کړل سي،لکه څنګه چي (علامات الأبواب) د دغه کښته شاګردانو لپاره ډېر مفيد دی،ځکه په دغه دوو کتابونو کي (خاصيات الأبواب) ډېره مشکله او سخته موضوع ده ،چي ډېر وخت شاګردان او استاذان ورسره په تکليف

وي،نو دادی د دغه شاګردان دغه ارمان او ارزو نن پوره سو،او دغه رساله مو په ښه معياري او سوچه پښتو وليکل او ستاسو درانه حضور ته وړاندي سوه.

دخاصيات الأبواب په موضوع باندي ډېرو خلګو رسالې ليکلي دي او په بازار کي په دغه نامه باندي ډېر کتابونه پيدا کيږي،خو هغه ځيني مختصر وي او ځيني بيا ډېر اوږده وي،چې دغه دواړه دشاګرد د پريشانۍ سبب جوړيږي،دغه رساله به ان شاء الله تعالى نه ډېره اوږده او نه به ډېره مختصره وي،بلکي معتدله به وي.

د خاصې تعريف (پېژندل):

خاصيات جمع ده مفرد خاصيت راځي، اويو خاصّةٌ دی او دغه بيا د اسم فاعل صيغه ده، چې په اصل کې خاصِصَةٌ و، بيا يې دويم صاد په يا سره بدل کړی، ديوې قاعدې له مخې نو خَاصِيَة ورڅخه جوړ سو، هغه قاعده داده چې په مضاعف کې کله کله دويم حرف په ياء سره بدليږي. او د دغه جمع بيا خواص راځي، خاصيات نه راځي.

دا په هغه صورت کې، چې د خاصة او خاصيت فرق وکړل سي، لکه: ځيني علماء چې وايي، اما که يې فرق ونه کړل سي، لکه: ځيني نور علماء چې وايي، بياخو خبره اسانه ده.

خاصه په لغت کې: يوشی جلا (خاص) کولو ته وايې.

منطقين وايي چې خاصه په اصطلاح کې: (مايوجد فيه ولايوجد في غيره) يعني: خاصه هغه ته ويل کيږي، چې په ذوی الخاصه (خاصې والا) کې موجود يږي او په هغه نورو کې نه موجود يږي، خو دلته دخاصې څخه دغه معنی مراد نه ده (١)، بلکې دلته د خاصې څخه دا

---

١ - ځکه تاسو ته به په راروانه کې معلومه سي، چې د ډېرو بابونو خاصيات سره مشترک دی.

معنی مراد ده چې :خاصه هغه معنی ده،چې تر اصلي(لغوي او اصطلاحي) معنی زائده او زیاته وي.

مخکي مو وویل چې د ثلاثي مجردو او غیر ثلاثی مجردودبابونو ترمابین چې کوم فرق دی هغه دمصدر په واسطه سره دی،یعني:د ثلاثي مجردو دمصدرونو اوزان ډیرزیات دي چې یو وزن تریوخاص باب پوري اختصاص نه لري اوپه غیرد ثلاثي مجردو کې بیا دمصدر دپاره یوخاص وزن وي،چې بله صیغه پر دغه وزن باندي ماسیوا د دغه باب دمصدر څخه نه سي راتلای،نور بحث هلته وکورئ!(۱).

دا خبره موهم هلته وکړه،چې د ثلاثي مجردو بابونه باید د قانون او قاعدې په اعتبار نه (۹) دانې وای،خو اوس شپږ دانې دي،ځکه د ثلاثي مجردو درې بابونه، نه دي استعمال سوې،اوس موږ ته شپږ دانې بابونو راپاته دي،او دغه شپږ بابونه بیا پر دوه قسمه دي.

➢ اصول الابواب.

---

۱ -په دې خبره باید تاسو پوه اوګا یاست،چې موږ دلته کومه خبره کوو،چې مخکي یې وکورئ،او یا داخبره موږ مخکي کړي ده،یا دې ته ورته نور الفاظ وایو،د دې څخه مو مراد، زموږ بل کتاب ده چې په نامه «علامات الابواب» دی.

➢ فروع الابواب.

اصـول الابواب درې بـابونه دي او فروع الابواب هم درې بابونه دي ،چې دغـه بيـا شـپږ دانې کيږي نور بحث هلتـه وګورئ!دلتـه اوس مـوږ هغـه شـپږ دانې بـابونـه را اخلو،او دهغو خـاصـيـات دلتـه بيانوو،تاسو غوږ سئ!.

د اصـول الابـواب ډېرخاصـيـتونـه دي،او دغـه بـابونـه پـه ټولو خاصـيتونو کې سره شريک دي،دلته موږ هغه خاصيتونه راوړو کوم چې دوی پکښې شريکان نه دي.

اول د نَصَرَ يَنْصُرُ (فَعَلَ يَفْعُلُ) باب دی.

ددغه باب خاصـيتونه خو ډېري دي خومشـهوره خاصـه يې مغالبه ده،مغـالبـه پـه لغت کې يوپـه بـل بـاندې دغـالـب کيدلو کوشـش کولوتـه ويل کيږي،او په اصـطلاح کې دېته وايي چې د مفاعلې د باب وروسـته ديو فعل په دا غرض سـره ذکر کول، چې د دې فعل په ذريعه سره يو د فريقينو،پرهغه بل باندې غالب ښـکاره سي،نود دغه غلبې دښکاره کولو لپاره چې کوم فعل راوړل کيږي،هغه بايد د نَصَرَ يَنْصُرُ د باب څخه وي.

خو په شرط د دې چې د دغه باب صيغه به د مفاعلې دباب دصيغو څخه وروسته واقع سوې وي، مثال يې لکه: خَاصَمَنِيْ زَيِدٌ فَخَصَمْتُهُ. (ما او زيد يو دبل سره جنګ وکړی، خو زه په جنګ کې پر زيد باندې غالب او کامياب سوم) دلته دغه (خَاصَمَنِيْ) د مفاعلې دباب ماضي صيغه ده او دغه (فَخَصَمْتُهُ) د نَصَرَ يَنصُرُ دباب ماضي صيغه ده .

او دويم شرط يې دا دی: چې که د مفاعلې دباب صيغه د ماضي وي، د نصر ينصر دباب صيغه به هم د ماضي صيغه وي، او که د مفاعلې دباب صيغه د مضارع وي، د نصر دينصر دباب صيغه به هم د مضارع صيغه وي، پورته مثال يې د ماضي دی، د مضارع مثال يې دا دی لکه: (يکارمني فاکرُمُه).

دويم د ضَرَبَ يَضْرِبُ (فَعَلَ يَفْعِلُ) باب دی.

د دغه باب خاصه هم مغالبه ده، يعني: يو په بل باندې د غالب کيدلو کوشش کول.

خو په شرط د دې چې د دغه باب صيغه به د مفاعلې دباب دصيغې څخه وروسته واقع سوې وي، او په هفت اقسام کې به مثال واوي او

يا مثال يا يې اويا اجوف واوي او يا اجوف يا يې او يا ناقص يا يي وي. مثال يې لکه: بَايَعَنِيْ زَيدٌ فَبِعْتُه (ما او زيد يو دبل سره په بيع کي بحث او مباحثه سره وکړه، خو زه په بيع کي باندي غالب او کامياب سوم).

فائده: که په کومه صيغه کي دغه دهفت اقسام شرائط نه وي پوره، بيا دغه صيغه د ضرب يضرب دباب څخه نه سي راتلای، بلکي د نصر ينصر دباب څخه به وي.

دريم د سَمِعَ يَسْمَعُ (فَعِلَ يَفْعِلُ) باب دی.

د دې باب لپاره يوه خاصه ده، هغه داده چې دغه باب ډېر وخت لازمي استعماليږي اود اسي صيغو څخه راځي، چې هغه د عيب، مرض، رنګ، درد، غمونو اويا خوشحاليو معنی ورکوي. مثال لکه: سَقِمَ يَسْقَمُ. معنی مرض.

څلورم د کَرُمَ يَكْرَمُ (فَعُلَ يَفْعُلُ) باب دی.

د دغه باب دوې خاصيې دي.

- دغه باب ټول وخت لازمي استعماليږي متعدي نه استعماليږي.
- اوددغه باب څخه درې قسمه افعال راتلای سي.

اول: هغه افعال چي هغه په صفت خلقي باندي دلالت کوي، يعني: په هغه صفت باندي، کوم چي دموصوف پيدايښت پر هغه باندي سوی وي، مثال لکه: حَسُنَ، معنی: ښايسته سو يا قَبُحَ معنی: بد رنګه سو. دلته اوس دغه دواړه داسي صفتونه، چي دانسان خلقت او پيدائښت پر هغه باندي سوی دی.

دويم: هغه افعال چي په صفت خلقي خو دلالت نه کوي، ليکن د بار بار تجريبې او مشق په وجه باندي د موصوف سره د صفت په شان لازم سوي وي، مثال لکه: فَقُهَ معنی: فقيه سو. اوس دلته دغه فقاهت اګر که د انسان سره خلقي نه دی، ليکن د بار بار تجريبې او مشق په وجه دموصوف سره لازم سوی دی، نوداسي سو لکه: صفت خلقي.

دريم: هغه افعال چي هغه په صفات خلقي باندي خو دلالت نه کوي، ځکه په اختلاف د احوالو او اوقاتو سره مختلف کيږي ليکن د صفات خلقي سره مشابهت لري، په دې کي چي دفاعل سره مکث

الطويل لري مثال لکه:صغراو کبر.دغه افعال اګرچې د صفات خلقي څخه خو نه دي،ليکن د صفات خلقي سره مشابهت لري.

فائده: لکه څنګه چې صفات خلقي د کَرُمَ دباب څخه راځي،دغه رنګه دغه صفات خلقي د سَمِعَ دباب څخه هم راځي،ليکن دونه فرق يي دی،چې د کَرُمَ دباب څخه هغه صفات خلقي استعماليږي،چې په هغوی کي د دوام معنی وي،لکه : حَسُنَ ،او د سَمِعَ دباب څخه بيا هغه صفات خلقي استعماليږي چې په هغوی کي د دوام معنی نه وي،لکه فَرِحَ،معنی :خوشحاله کېدل،اوس په خوشحالي کي خو دوام نسته دی.

پنځم باب د فَتَحَ يَفْتَحُ (فَعَلَ يَفْعَلُ) دی.

د دې باب لپاره يوه خاصه ده ،هغه داده چې دغه باب د د اسي صيغو څخه راځي،چې دهغو صيغو عين يا لام کلمه يا دواړه دحروف حلقيه څخه وي، مثال لکه:مَنَعَ يَمْنَعُ.

سؤال: اَبی يأبی اورَکَنَ يَرْکَنُ د دغه باب څخه راغلي دي،او کوم شرط چې تاسو لګولی دی،چې عين يا لام کلمه يې د حروف حلقيه څخه وي،هغه شرط دلته پرځای نه دی.

جواب: دغه دواړه بابونه شاذ دي.

فائده: دلته يوه فائده پيژندل ضروري ده، هغه داده چې يو «شاذ» دی او بل «نادر» دی او بل «ضعيف» دی، د دوي په مابين کي فرق په لاندي ډول سره دی.

شاذ دادی: چې د قانون مخالف وي، خو که څه هم د استعمال موافق وي، لکه: ابی يأبی.

نادر دادی: چې د قانون موافق وي، خو د استعمال مخالف وي، يعني: لږ استعماليږي.

ضعيف دادی: چې په اصل وجود کي د ده اختلاف وي، په دې معنی چې ايا دغه لغت موجود دی او که هغه بل لغت موجود دی.

شپږم باب د حَسِبَ يَحْسِبُ (فَعِلَ يَفْعِلُ) دی.

د دې باب لپاره يوه خاصه ده، هغه داده چې د دغه باب څخه يو څو خاص صيغې راتلای سي چې مجموعه عدد يې (۱۸) اتلس دي، نوري صيغې په کلام د عربو کي د دغه بابه څخه نسته هغه لکه:

۱. نَعِمَ معنی: هغه خوشحاله سو.

٢. وَبِقَ معنی :هغه هلاک سو.
٣. وَمِقَ معنی :هغه دوست جوړ سو.
۴. وَثِقَ معنی :هغه مذبوت سو.
۵. وَفِقَ معنی : هغه موافق سو.
٦. وَرِثَ معنی : هغه وارث سو.
٧. وَرِعَ معنی :هغه پرهېزګاره سو.
٨. وَرِمَ معنی :هغه اوپړسېدو
٩. وَرِيَ معنی : د ډبري څخه اور ووتی.
١٠. وَلِيَ معنی : هغه نېژدې سو.
١١. وَعِرَ معنی : هغه کینه اوساتله.
١٢. وَحِرَ معنی : هغه سخت ناراضه سو.
١٣. وَلِهَ معنی : هغه حیران سو.
١۴. وَقِهَ معنی : هغه دخوشحالی کار وکړو.
١۵. وَعِمَ معنی : هغه د نعمت دعاء وکړل
١٦. وَطِئَ معنی :هغه پایمال سو.
١٧. يَئِسَ معنی : هغه نا امیده سو.
١٨. يَبِسَ معنی :هغه جفا وکړل.

د دغه صيغو څخه مراد دادی، چې دغه يو څو بابونه دعربو په کلام کي سته چې هغه د فعِل يفعِل ، حسِب يحسِب پر وزن راغلې دي ، مورِيې تاسو ته ماضي معلومي صيغې وليکلې، نور تاسو په خپله وليکلی.

د ثلاثي مزيد فيه دبابونو خاصيات .

چې دغه ټول دولس (١٢) بابونه دي:

اول د اِفْعَال باب دی.

د دغه باب لپاره پنځلس خاصيات دي:

١.اوله خاصه تعديت دی :تعديت په لغت کي متعدي کيدلو او تجاوز کولو ته ويل کيږي،اوتعديت د صرفيانو په اصطلاح کي دفعل لازمي څخه متعدي جوړه ولوته ويل کيږي،يعني: که په مجردو کي يو فعل لازمي وي،او هر کله چې دافعال باب ورڅخه جوړ کړې،نو متعدي کيږي، دغه متعدي کېدل بيا پر درې قسمه دي.

۱. متعدي ويوه مفعول ته .
۲. متعدي ودوو مفعولونو ته .
۳. متعدي ودرو مفعولونو ته.

- د اول مثال لکه: جَلَسَ زَيْدٌ(زيد کښېناستو)دا لازمي دی اَجْلَسَ زيدٌ عمراً(زيد عمر کښېنوی).دا متعدي دی.
- د دويم مثال لکه: حَفَرَ زيدٌ نهراً ترجمه:زيد بيالـه(والـه) وکندل اَحَفَرْتُ زيداً نهراً ترجمه: ما په زيدباندي بيالـه وکندل.
- د دريم مثال لکه: عَلِمْتُ زيداً فاضلاً (ماته معلومه سوه چي زيد فاضل دی) اَعْلَمْتُ زيداً عمراً فاضلاً(ما زيد ته علم ورکړی،چي عمر فاضل دی).

يعني: که يو فعل په مجردو کي مفعول ته نه وي متعدي سوی،چي څه وخت د افعال باب ورڅخه جوړ کړي،بيابه يو مفعول ته متعدي کيږي،او که په مجردو کي يو مفعول ته متعدي سوی وي،بيا چي څه وخت د افعال باب ورڅخه جوړه وي،بيابه يې دوو مفعولونو ته متعدي کوي،او که دوو مفعولونو ته متعدي سوی وي،چي څه

وخت د افعال باب ورځخه جوړه وي،بيابه يې درو مفعولونوته متعدي کوي،مثالونه يې لوړ تېرسوه.

۲.دوهمه خاصه تصييردی: تصييرپه لغت کي ګرځېدلوته وايي،اوپه اصطلاح کي دېته ويل کيږي ،چې فاعل مفعول به د دغه فعل دمأخذ خاوند(مالک)جوړ کړي، مثال لکه: أَشْرَكْتُ النَّعْلَ أَيْ جَعَلْتُهُ ذَاشِرَاكٍ ماخپله څپلۍ تسمه داره وګرځوله.دلته اوس فاعل چې متکلم دی،مفعول به چې نعل(څپلۍ) ده د شراک خاوند جوړه کړ،چې هغه د دغه فعل مأخذ دی.

۳.دريمه خاصه إِلْزَامُ دی:الزام د فعل متعدي لازمي ګرځولو ته ويل کيږي مثال لکه : حَمِدْتُّ زَيْدًا مادزيد ستاينه وکړه دامتعدي دی، چې افعال باب ته يې واړوې لازمي ګرځي لکه:أَحْمَدَزَيْدٌ زيد دستايلوقابل سو.

۴.خاصه تعريض دی:تعريض په لغت کي پټش(وړاندي)کولوته ويل کيږي،اوپه اصطلاح کي دفاعل مفعول به د دغه فعل مبدأ رسولوته وايي، مثال لکه: أَبَعْتُ الْفَرَسَ، آس مې دبيع ځای ته بوتلی.

٥.پنځمه خاصه وجدان دی: وجدان دپته وايي: چې فاعل مفعول به د دغه فعل په مأخذ سره د دغه فعل متصف (موصوف) پيدا کړي لکه: أَبْخَلْتُ زَيْدًا مازيد په بخل سره متصف (موصوف) پيدا کړ.

٦.شپږمه خاصه سلب مأخذ دی: سلب مأخذ دمفعول به څخه مأخذ لري کولو ته وايي لکه: أَشْكَيْتُ زَيْدًا مادزيد څخه شکايت لري کړ.

٧.اومه خاصه اعطاء مأخذ دی: اعطاء مأخذ دري معناګاني لري.

- **اول: مفعول ته مأخذ ورکول لکه: اَعْظَمْتُ الْكَلْبَ ماسپي ته هډو کی ورواچوی، معنی: ورمي کړ.**
- **دوهم: مفعول ته دمأخذ محل ورکول لکه: اَشْوَيْتُ زَيْدًا مازيد ته د کبابولولپاره غوښه ورکړه.**
- **دريم: مفعول ته د مأخذ حق ورکول لکه: أَقْطَعْتُهُ قُضَبَانًا ما زيد ته د ښاخونو د پرېکولو حق يعني: اجازه مې ورکړه.**

٨.اتمه خاصه بلوغ دی: بلوغ فاعل مأخذ ته رسېدلو ته وايي: دغه مأخذ بيا پر دري قسمه دی.

۱. مأخذ کله زمان وي. لکه: أَصْبَحَ زَيْدٌ زيد دسهار په وخت کې ورسېدی.

۲. اوکله بیامکان وي. لکه: اَعْرَقَ زَيْدٌ زيد عراق ته داخل سو.

۳. اوکله بیاعدد وي ،لکه: اَعْشَرْتُ الدَّراهم روپۍ (دراهم) لسو ته ورسېدې.

۹.نهمه خاصه صیرورت دی: صیرورت هم دري معنی ګاني لري.

- ✓ اول فاعل صاحب (مالک) د مأخذ ګرځیدل لکه: اَلْبَنَتِ الشَّاةُ میږه دشیدو والاسوه .
- ✓ دوهمه فاعل دداسې شي مالک ګرځېدل چې هغه شی په مأخذ د دغه فعل سره متصف وي لکه: اَجْرَبَ الرَّجُلُ سړی دخارشي اوښانو مالک وګرځېدی.
- ✓ دریمه فاعل په زمان مأخذیا مکان مأخذ کې دیوشي مالک ګرځېدل لکه: اَخْرَفَتِ الشَّاةُ میږه په زمانه د خزان کې پېچي والاسوه.

۱۰.لسمه خاصه لياقت دی : لياقت فاعل دمأخذ لايق کېدلو ته وايي لکه : اَلَمَ الرَّجُلُ سړی دملامتيا لايق سو(۱).

۱۱.يولسمه خاصه حينونت (تقريب) دی: حينونت فاعل دمأخذ وخت ته رسېدلو(ورنېژدې کېدلو)ته وايي لکه : اَحْصَدَالزَّرْعُ کښت درېبلو وخته ورسېدی،يعني: ورنېژدې سو.

۱۲.دولسمه خاصه مبالغه ده : مبالغه په مأخذ کې زيادت او کثرت راتللو ته وايي.

دغه مبالغه بيا پر دوه قسمه ده .

۱. کله مبالغه په مقدار کې وي. لکه : اَثْمَرَ النَّخْلُ دخرما ونې ډېره مېوه وکړه.
۲. اوکله مبالغه په کيفيت کې وي لکه :اَسْفَرَ الصُبحُ سهار ښه واضح او روښانه سو.

---

۱ -اَلَمَ په اصل کې اَلْئَمَ وو لکه اَکْرَمَ ،بيا د يَسَلُ والا قانون جاري سو،هغه قانون داسې دی: چې دهمزې حرکت خپل ماقبل ته نقل کول جائز او بيا همزه حذف کول واجب دي، نو د دغه قانون په اساس يې د همزه حرکت نقل کړی،ولام ته يې ورکړی،او همزه يې حذف کړه،نو اَلَمَ ورڅخه جوړ سو.

١٣.ديارلسمه خاصه ابتداء ده : ابتداء دپته وايي چې دغه باب ديوې معنا لپاره استعمال سي ببله دې چې د ثلاثي مجرد و څخه دې راواخستل سي بلکي د شروع څخه ديوې معنا لپاره استعمال سي لکه: اَرْ قَلَ **تلوار کول داباب مجرد نه لري، يا داچې مجرد لري خو د مجرد معنا غير وي د مزيد فيه د معنى څخه لکه :** اَشْفَقَ **معنى ببرېدل ،مجرد يې** شَفِقَ **د ى معنى مهرباني کول.**

١٤.څوارلسمه خاصه موافقت د ى :موافقت يو باب دبل باب په معنى کي موافق کېدلو ته وايي، دافعال باب دځلورو بابونو په معناسره راځي.

١. **اول د ثلاثي مجرد لکه :** اَدْجَى اللَّيْلُ **شپه تاريکه سوه. په معنى د** دَجَى اللَّيْلُ. **سره د ى.**
٢. **دوهم د تفعيل لکه:** اَكَفَرْتُهُ **په معنا** دكَفَّرْ تُهُ **ماده ته د کفر نسبت وکړ.**
٣. **دريم د تَفَعِّل لکه :** اَخْبَيْتُ الثَّوْبَ **په معنا د** تَخَبَّيْتُ الثَّوْبَ **ماد کاليو (جامو) خيمه جوړه کړه.**

۴. څلورم استفعال لکه : اَعْظَمْتُ زَيْدًا په معنا د اِسْتَعْظَمْتُ زَيْدًا ما زيد لوی بزرګ وباله .

۱۵. پنځلسمه خاصه مطاوعت دی :مطاوعت دې ته وايي،چې يو فعل تربل فعل وروسته په دې غرض راوړي چې دامعلومه سي چې د اول فعل مفعول به دخپل فاعل اثر قبول کړی دی لکه : بَشَّرَ زَيْدٌ عَمْرًوفَأَبْشَرَ زيد عمرو ته خوشحالي ورکړه نو عمر خوشحاله شو.يعني:عمرخوشحالي قبوله کړه(۱).

۱- فائده : دمطاوعت لغوي او اصطلاحي معنا ګاني مخکې تېرې سوې او س دمطاوعت ارکانه وو: دمطاوعت درې ارکان دي.

- مطاوَع(دواوپه فتحه سره)
- مطاوِع (دواوپه کسره سره).
- مطاوعت.

مطاوَع : (دواوپه فتحه سره).هغه فعل چې اول ذکر کيږي او متعدي وي.

مطاوِع : (دواوپه کسره سره).هغه فعل چې دويم ذکر کيږي،او لازمي وي.

مطاوعت: ومفعول ته د فاعل اثر رسولو ته مطاوعت وايي.

د مطاوعت د استعمال لپاره قاعدة كليه:

كه چيري اول فعل (مطاوَع) متعدي وو، يو مفعول ته نو دغه دويم فعل (مطاوِع) به لازمي وي.

او كه چيري اول فعل (مطاوَع) متعدي وو، دوو مفعولونو ته، نو دويم فعل (مطاوِع) به متعدي وي يو مفعول ته.

او كه چيري اول فعل (مطاوَع) متعدي وو، درو مفعولونو ته، نو دويم فعل (مطاوِع) به متعدي وي، دوو مفعولونو ته.

مثال لكه: بَشَّرَ زَيْدٌ عمراً فَاَبْشَرَ (زيد وعمر ته زېرى ورکړى، بس عمر خوشحاله سو).

دلته اوس دغه (بَشَّرَ) اول فعل مطاوَع دى، ځكه اول ذكر سوى دى، او متعدي هم دى، او (فَاَبْشَرَ) دويم فعل مطاوِع دى، ځكه دويم ذكر دى او لازمي دى، او هغه خوشحالي مطاوعت دى، نو د دويم فعل (فَاَبْشَرَ) څخه دا معلومه سوه، چې د اول فعل د فاعل اثر (خوشحالي) د دغه فعل مفعول قبوله كړې ده.

دوهم باب د تَفْعِيْلٌ دی.

داباب دیارلس خاصیات لري.

:۱.اول تعديت دی: تعديت په لغت کي متعدي کيدلو او تجاوز کولوته ويل کيږي،اوتعديت د صرفيانوپه اصطلاح کي دفعل لازمي څخه متعدي جوړه ولوته ويل کيږي،يعني: که په مجردو کي يو فعل لازمي وي،او هر کله چي دافعال باب ورڅخه جوړ کړې،نو متعدي کيږي، دغه متعدي کېدل بيا پر درې قسمه دي.

۱. متعدي ويوه مفعول ته .
۲. متعدي ودوو مفعولونوته .
۳. متعدي ودرو مفعولونوته.

- د اول مثال لکه: فَرِحَ زَيْدٌ زيد خوشحاله سو فَرَّحْتُ زَيْدًا مازيد خوشحاله کړو
- د دويم مثال لکه: حَفَرَ زيدُ نهراً ترجمه:زيد بياله(واله) وکندل حَفَّرَتُ زيداًنهراًترجمه: ما په زيدباندي بياله وکندل.

- د دريم مثال لکه: عَلِمْتُ زيداً فاضلاً (ما ته معلومه سوه چې زيد فاضل دی) عَلَّمْتُ زيداً عمراً فاضلاً (ما زيد ته علم ورکړی، چې عمر فاضل دی).

۲.دوهمه خاصه يې تصييردی: تصييردپته وايي: چې فاعل مفعول به صاحب (مالک) د مأخذ وګرځوي لکه: نَزَّلْتُ زَيْدًا اَیْ جَعَلْتُهُ ذَانَزُوْلٍ مازيد رابښکته کولو والا وګرځوی.

۳.دريمه خاصه يې سلب مأخذ دی: سلب مأخذ دپته وايي: چې فاعل د دغه فعل دمفعول به څخه د دغه فعل مأخذ لري کړي لکه: قَذَّيْتُ عَيْنَهُ مادستر ګې څخه ذره لري کړه.

۴.څلورمه خاصه صيرورت دی: صيرورت فاعل صاحب (مالک) مأخذ ګرځولو ته وايي لکه: نَوَّرَالشَّجَرُ درخته شګوفه داره (ونه غوټی داره سوه) يعني ګولان يې وکړل.

۵.پنځمه خاصه يې بلوغ دی: بلوغ دپته وايي چې فاعل د دغه مأخذ د دغه فعل ته ورسېږي لکه: خَيَّمَ زَيْدٌ زيد خېمې ته ورسېدی.

٦.شپږمه خاصه يې مبالغه ده : مبالغه په مأخذ کې زيادت او کثرت راتللو ته وايي.

دغه مبالغه بيا پر درې قسمه ده:

١. کله مبالغه په فعل کې وي لکه : حوَّلَ زيدٌ ډېر وګرځېد لو .

٢. کله مبالغه په فاعل کې وي لکه : مَوَّتَ الإِبِلُ ډير اوښان مړه سول .

٣. کله مبالغه په مفعول کې وي لکه : قَطَّعْتُ الثِّيَابَ ما ډېري جامې څيرې کړې.

٧.اومه خاصه يې موافقت دی : موافقت يو باب دبل باب په معنی کې موافق کېدلو ته وايي .

د تَفْعِيْلٌ باب ددرو بابونو په معناسره راځي.

١. کله دمجرد په معنا وي لکه: تَمَّرْتُ زَيْدًا په معنا د تَمَرْتُ زيداً ما زيد ته خرما ورکړه .

٢. اوکله په مزيد فيه بابونو کې دافعال دباب په معنا وي لکه: تَمَّرَ په معنا دأَتْمَرَ ده،معنی : لنده خرما وچه سوه.

۳. کله د تَفَعُّلْ په معنا وي لکه : تَرَّسَ زيدٌ چې ده تَتَرَّسَ زيدٌ په معنا ده، زيد په ډال سره ځان ساتنه کول.

۸.اتمه خاصه يې ابتداء ده : ابتداء دپته وايي چې دغه باب ديوې معنا لپاره استعمال سي ببله دې چې د ثلاثي مجرد ثخه دې راواخيستل سي بلکي دشروع ثخه ديوې معنا لپاره استعمال سي لکه: لَقَّبَ زيدٌ عمراً زيد عمر ته لقب ورکړ، دامجرد نه لري.

يا داچې مجرد لري خو دمجرد معنا غير وي دمزيد فيه دمعنى ثخه،لکه: جَرَّبْتُ زَيداً مِراراً ،ما په زيد باندې ثو واره تجربه وکړه ،په مجردو کې دسمع يسمع دباب ثخه « جَرِبَ الجملُ »رائې معنا اوښ خارش والا سو.

۹.نهمه خاصه تخليط دی: تخليط دپته وايي:چې فاعل د دغه فعل مفعول به په مأخذ د دغه فعل سره ښايسته کړي لکه : ذَهَّبْتُ السَّيْفَ توره مي په سروزرو ښايسته کړه.

۱۰.لسمه خاصه يې تحويل دی: تحويل دفاعل مفعول به د دغه فعل مأخذ ګرځول يا د مأخذ په شان ګرځولو ته وايي لکه : نَصَّرْتُ زَيْدًا زيد مي نصراني کړ،يعني: نصراني مي جوړ کړو.

١١.يولسمه خاصه يې قصر دی :قصر دمرکب الفاظو څخه مختصره کلمه جوړولوته وايي لکه: هَلّلَ زَيْدٌ، زيد لاإله إلا الله وويل.

١٢.دولسمه خاصه يې نسبت الی مأخذ دی: نسبت الی مأخذ د فاعل مفعول به د دغه فعل مأخذ منسوب کولوته وايي لکه: فَسَّقْتُ زَيْدًا زيد مې فسق ته منسوب کړ، يعني: فاسق مي وبولی.

١٣.دیارلسمه خاصه الباس مأخذ دی: الباس مأخذ دفاعل مفعول به د دغه فعل مأخذ اغوستلوته وايي لکه جَلَّلْتُ الْفَرَسَ ماآس ته زين يا جيلَو ورواغوستی.

دريم باب مُفَاعَلَةٌ دی.

داباب څلور خاصيات لري.

١.اوله خاصه يې مشارکت دی: مشارکت دوه کسان په يوه کار کي په دا رنګه سره شېريکېدلوته وايي،چي هر يو دمعنی په اعتيار سره هم دفاعل او هم دمفعول جوړېدلو امکان لري،خو په ظاهر باندي يو فاعل اوبل مفعول وي مثال لکه : ضَارَبَ زَيْدٌ عمروًا زيد عمر ووهی،اوس دلته عمر هم دا صلاحيت لري،چي زيد ووهي.

۲.دوهمه خاصه يې موافقت دی : موافقت يوباب دبل باب سره په معنی کي موافق کېدلو ته وايي.

د مفاعلې باب دځلوروبابونو په معناسره راځي.

۱. کله دمجرد په معنا وي لکه: سَافَرَزيدٌ **په معنی د** سَفَرَزيدٌ **زيد سفر کړی و.**

۲. کله دافعال په معنا وي لکه: بَاعَدْتُهُ **په معنی د** اَبْعَدْتُهُ ، **دی ما دی لري کړی.**

۳. **کله دتفعيل په معناوي لکه:** ضَاعَفْتُ الشیءَ **په معنی د** ضَعَّفْتُ الشیءَ ،**ماشی د وچنده وګرځوی.**

۴. کله دتفاعل په معناوي لکه: شَاتَمَ زيدٌ عمراً **په معنی د** تَشَاتَمَ زيدٌ عمراً)**زيد او عمريو د بل ښکنځل سره وکړل.**

۳.دريمه خاصه يې ابتداء ده : ابتداء دېته وايي چې دغه باب ديوې معنا لپاره استعمال سي ببله دې چې د ثلاثي مجرد و څخه دې راواخستل سي بلکي دشروع څخه ديوې معنا لپاره استعمال سي لکه: خَاتَّ مُخَاتَّه **ديوې ځمکي حدود دبلي ځمکي له حد سره يوځای کول دافعل مجرد نه لري.**

يـا داچې مجرد لري خو دمجردمعنـا غير وي دمزيـد فيـه دمعنى څخه لكه: قَاسَى مُقَاسَـاةً تكليف برداشـتول اومجرد يې قَسَـا يَقْسُـوُ قَسْوَةً سخت زړه والا كېدل.

۴.څلورمه خاصـه تصـييردى: تصـييرپه لغت كي ګرځېدلوته وايي،او پـه اصـطلاح كي دېتـه ويـل كيږي ،چي فـاعـل مفعول بـه ددغه فعل مأخذ جوړ كړي مثال لكه: عافاك الله اى جعلك الله ذا عافية. الله (جل جلاله) دي تا د عافيت والا جوړ كړي.

۵.پنځمه خاصـه تعديت دى: تعديت په لغت كي متعدي كيدلو او تجاوز كولوتهويل كيږي،اوتعديت د صرفيانوپه اصطلاح كي دفعـل لازمي څخـه متعـدي جوړه ولوتـه ويـل كيږي،يعني: كـه پـه مجردو كي يو فعـل لازمي وي،او هر كلـه چي دمفاعلې باب ورڅخه جوړ كړې،نو متعـدي كيږي،مثـال لكه: (كارمته) مادى كرامت والا جوړ كړى .دغـه بـاب پـه مجردو كي لازمي دى اوس چي هر وخت دمفاعلې باب ورڅخه جوړ سو،نو متعدي سو.

خو د دغـه تعديت او هغه مخكني تعديت دونه فرق سـته ،چي دلته داشرط غواړي،چي كه په ثلاثي مجردو كي اول مفعول ته متعدي

وو،اوس چې څه وخت د مفاعلې باب ورڅخه جوړ سو، دويم مفعول ته متعدي کيږي، په دې شرط چې د غه د ثلاثي مجردو اول مفعول به د فاعليت صلاحيت نه لري،اما که د فاعليت صلاحيت درلودی،بيا هغه اول مفعول ته متعدي کيږي، کوم چې په ثلاثي مجردو کې ورته متعدي سوی وو،دويم مفعول ته ضرورت نسته ،دهغه مثال چې د ثلاثي مجردو کې اول مفعول ته متعدي وي،خو د مفاعلې د باب په وخت کې دويم مفعول ته متعدي کيږي،(جاذبته الثوب)، او هغه بل مثال لکه: شاتمته.

څلورم بـاب تَـفَـعُّـلُ دی:

داباب يوولس خاصيات لري

١.اوله خاصه يې مطاوعت تفعيل دی: مطاوعت دې ته وايي،چې يو فعل تربل فعل وروسته په دې غرض راوړي چې دامعلومه سي چې داول فعل مفعول د دغه فعل د فاعل اثر قبول کړی دی لکه؛ قَطَّعْتُهُ فَتَقَطَّعَ ټکړې ټکړې مي کړ، نو ټکړې ټکړې سو ، داخاصه په دې باب کې ډېره زياته ده.

٢.دوهمه خاصه يې تَكَلُّفْ دی: تَكَلُّفْ دپته ويل کېږي چې فاعل حقيقةً د دغه فعل په مأخذ سره متصف نه وي خو تَكَلُّفًا ځان د دغه په مأخذ سره متصف ښکاره کوي لکه: تَشَجَّعَ زَيْدٌ زيد په تکلف سره ځان دلاوره(شجاع) ښکاره کړی.

٣.دريمه خاصه يې تَجَنُّبْ دی :تَجَنُّبْ دپته وايي:چې دفاعل د دغه فعل دمأخذ د دغه فعل څخه ځان وساتي،لکه: تَأَثَّمَ زيدٌ ،زيد د گناه څخه پرهېز وکړی.

٤.څلورمه خاصه يې لبس مأخذ دی: لبس مأخذ،دپته وايي چې دفاعل د دغه مأخذ د دغه واغوندي لکه: تَخَتَّمَ زَيْدٌ زيد گوتمی په گوته کړه.يعني: په گوته کي يي واغوستل.

٥.پنځمه خاصه يې تعمل دی: تعمل دپته وايي چې دفاعل د دغه فعل مأخذ د دغه فعل په کار اچولوي ،لکه: تَدَهَّنَ زَيْدٌ زيد غوړي په کار واچول.

٦.شپږمه خاصه يې اتخاذ دی : اتخاذ په لغت کي جوړولو يا نيولو ته ويل کيږي او په اصطلاح کي بيا اتخاذ څلور معناګانې لري.

۱. اول دفاعل څخه مأخذ جوړول او ایجاد کول لکه : تَخَيَّمَ الثَوبُ ما د کپړې (جامې) څخه خیمه جوړه کړه.

دلته فاعل څخه چې الثوب (جامه) ده، مأخذ چې خیم (خیمه) ده، جوړه او ایجاد کړه.

۲. دوهم مأخذ اختیارول لکه: تَجَنَّبَ زَيْدٌ زید کناره کشي اختیار کړه.

۳. دریم دفاعل د مفعول څخه مأخذ ګرځول (جوړول) لکه: تَوسَّدَ زيدُ الْحَجَرَ زید ډبره بالښت وګرځول.

۴. څلورم: دفاعل مفعول لره په مأخذ کښې اخیستل لکه: تَأَبَّطَ زيدُ الصّبِيَّ زید ماشوم په ترخ کښې واخیستلو.

۷. اوومه خاصه یې تدریج دی: تدریج دې ته وایي چې فاعل د دغه فعل، مفعول د دغه فعل په کرار کرار سره سر ته ورسوي، لکه: تَحَفَّظَ زيدُ الْقُرْآنَ په لړلړ سره زید قرآن کریم یاد کړ.

۸.اتمه خاصه يې تَحَوُّلُ دی: تحول فاعل مأخذ جوړول يا دمأخذ په شان کېدلوته وايي لکه: تَبَحَّرَ زَيْدٌ زيد په علم کې ددرياب په شان سو.

۹.نهمه خاصه يې صېرورت دی:صيرورت فاعل صاحب(مالک) مأخذ کېدلوته وايي لکه: تَمَوَّلَ حَامِدٌ حامد دمال خاوند سو.

۱۰.لسمه خاصه يې موافقت دی :موافقت يو باب دبل باب سره په معناکي موافق کېدلو ته وايي:

د تَـــفَـــعُّـــلُ باب د څلورو بابونو په معنی راځي.

۱. کله دمجرد په معنا وي لکه :تَقَبَّلَ په معنا قَبِلَ قبلول.
۲. کله دافعال په معنا وي لکه : تَبَصَّرَ په معنا دأَبْصَرَ ورته کتل.
۳. کله د تفعيل په معنا وي لکه : تَكَذَّبَ په معنا د كَذَّبَ چا ته نسبت د کذب کول.
۴. کله داستفعال په معنا وي لکه: تَحَوَّجَ په معنا د اِسْتَحْوَجَ دحاجت طلبول.

۱۱.يولسمه خاصه ابتداء ده : ابتداء دپته وايي چې دغه باب ديوې معنا لپاره استعمال سي ببله دې چې د ثلاثي مجرد څخه دې راواخستل سي بلکي دشروع څخه ديوې معنا لپاره استعمال سي لکه: تَوَلَّىٰ زيدٌ زيد افسوز وکړو دامجرد نه لري.

يا داچې مجرد لري خو دمجرد معنا غير وي دمزيد فيه دمعنى څخه لکه: تَكَلَّمَ خبرې کول ، مجرد يې (كَلَمَ يَكلِمُ كَلْمًا) زخمي کېدل.

پـــنـــځـــم دتَـــــفَـــاعُـــلُ بـــاب دی.

داباب پنځه خاصيات لري:

۱.اوله خاصه يې تشارک(مشارکت)دی: تشارک/مشارکت فاعل اومفعول دواړه د يوه کار په صدور کې شېريک کېدلو ته وايي لکه: تَشَاتَمَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو زيد او عمرو يو بل ته بنکنځل سره وکړل.يعني:دواړه په بنکنځلو کې سره شريک سوه.دلته د دوی شرکت په صدور د دغه فعل کې دی،نه په وقوع د دغه فعل کې.

تنبيه : بايد دا خبره په ذهن کې وساتو،چې د دغه مشارکت او هغه مخکني مشارکت فرق سته،هغه دارنګه:

په هغه مخکنې مشارکت کې،یو فاعل او بل مفعول وو صراحةً،فاعل مرفوع او مفعول منصوب و ،خو ضمنا دغه مفعول د فاعلیت صلاحیت درلو دی،او دغه فاعل دمفعولیت صلاحیت درلودی،او په دغه مشارکت کې بیا دغه رنګه نه دی،بلکې دواړه صراحةً فاعلونه دي،او دواړه مرفوع ویل کیږي،مثالونه یې لوړ تېر سوه.

۲.دوهمه خاصه یې تخییل دی:تخییل دېته وایي،چې فاعل حقیقةً د دغه فعل په مأخر سره متصف نه وي صرف دخلکو په خیال کې ځان د دغه فعل په مأخر سره متصف ښکاره کوي لکه: تَمَارَضَ زیدٌ ،زید ځان مریض ښکاره کړ.

۳.دریمه خاصه یې مطاوعت مفاعله دی:مطاوعت دېته وایي،چې یو فعل تربل فعل وروسته په دې غرض راوړي چې دامعلومه سي چې د اول فعل مفعول داول فعل د فاعل اثر قبول کړی دی ،نو دلته هم دغه تفاعل باب د مفاعلې دباب څخه وروسته واقع کیږي د دې لپاره چې دا معلومه سي ،چې دمفاعلې دباب د فاعل أثر د دغه باب مفعول قبول کړی دی،یعني: دهغه مفاعلې مطاوع جوړېدل چې په

معنا دافعال وي لكه: بَاعَدْتُهُ اى اَبْعَدْتُهُ فَتَبَاعَدَ ليرې مې کړ نو ليرې سو.

۴.څلورمه خاصه يې موافقت دی: موافقت يو باب دبل باب په معنا سره کېدلو ته وايي: د تَفَاعُل باب د دوو بابونو په معنی راځي.

۱. کله دمجرد په معناوي لکه: تَعَالٰی په معنا د عَلَا بلنده (لوړ).

۲. او کله افعال دباب په معنا وي لکه: تَيَامَنَ په معنا د اَيْمَنَ يعني: دی يمن ته ورسېدی.

۵.پنځمه خاصه يې ابتداء ده: ابتداء دې ته وايي چې دغه باب ديوې معنا لپاره استعمال سي ببله دې چې د ثلاثي مجرد و څخه دې راواخستل سي بلکي دشروع څخه ديوې معنا لپاره استعمال سي لکه: لکه: تَدَاخَلَتَا په مينه يو بل سره يو ځای کېدل دا مجرد نه لري، يا داچې مجرد لري خو دمجرد معنا غير وي دمزيد فيه دمعنی څخه لکه: تَبَارَکَ برکتنا کې کېدل، مجرد يې بَرَکَ بُرُوْکًا اوښ چوکېدل.

شپږم باب دافتعال دی.

دا باب شپږ خاصيات لري:

۱.اوله خاصه يې اتّخاذ دی:اتخاذ په لغت کي جوړولو يا نيولو ته ويل کيږي او په اصطلاح کي بيا څلور معنا ګاني لري:

۱. اول دفاعل مأخذ جوړول او ايجاد لکه : اجتحر الفار موږک سوری جوړ کړی.

دلته فاعل چې فار(موږک)دی،مأخذ چې جحر (سوری)دی،جوړ او ايجاد کړی.

۲. دوهم مأخذ اختيارول لکه: اجتنب زَيْدٌ زيد کناره کشي اختيار کړه،د دې مأخذ جُنبٌ دی(طرف/جانب)دی،دلته مأخذ اختيار کړل سو.

۳. دريم فاعل ،د مفعول څخه مأخذ ګرځول(جوړ ول)لکه: اِشْتوی زيدٌ اللحمَ(زيد غوښه کباب کړه).

۴. څلورم:دفاعل مفعول لره په مأخذ کښې اخستل لکه:احتجرتُ الطفل(ما ماشوم په غيږ کښې واخستلو).

۲.دوهمه خاصه يې تصرف دی: تصرف په لغت کي په عمل کي دخل کولو ته ويل کيږي،اوپه اصطلاح کي د فاعل دفعل په حصول کي کوشش کولو ته ويل کيږي، لکه: اِكْتَسَبَ زَيْدٌ المال ۞ (زيد ده مال په حاصلولو کې کوشش وکړ).

۳.دريمه خاصه يې تخييردی: تخييردپته وايي چې فاعل د دغه دخپل ځان دپاره مأخذ د دغه فعل اختيار کړي،لکه: إِكْتَلَيْتُ مادخپل ځان دپاره پيمانه وکړه.

۴.څلورمه خاصه يې مطاوعت د تفعيل دی: مطاوعت دپته وايي،چې يو فعل تربل فعل وروسته په دې غرض راوړي چې دامعلومه سي چې د اول فعل مفعول دفاعل اثر قبول کړی دی لکه :غَمَّمْتُهُ فَاغْتَمَّ ماهغه غمګين کړو نو هغه غمګين سو.

۵.پنځمه خاصه يې موافقت دی: موافقت يوباب دبل باب په معنا کي موافق کېدلوته وايي :

د دافتعال باب د پنځو بابونو په معنی سره راځي.

۱. کله دمجرد په معنا وي لکه : اِبْتَلَجَ الصُّبْحُ په معنا د بَلَجَ سهار روښانه سو.

۲. کله په معنا دافعال وي لکه : اِحْتَجَزَ په معنا د اَحْجَزَ دی په حجاز کې داخل سو.

۳. کله د تَفَعُّلْ په معنا وي لکه: اِرْتَدیٰ په معنا د تَرَدّٰی څادر يې واغوستی.

۴. کله د تَفَاعُلْ په معنا وي لکه: اِخْتَصَمَ زَيْدٌ وَعَمْرٌو په معنا د تَخَاصَمَ دی، زيد او عمرو يو د بله سره جګړه وکړه.

۵. کله په معنا داِسْتِفْعَالْ وي لکه : اِيْتَجَرَ په معنا داِسْتَأْجَرَ دی طلب دمزدوری يې وکړ.

٦.شپږمه خاصه يې ابتداء ده : ابتداء دې ته وايي چې دغه باب ديوې معنا لپاره استعمال سي بېله دې چې د ثلاثي مجرد و څخه دې راواخستل سي بلکې دشروع څخه ديوې معنا لپاره استعمال سي لکه: اِيْتَجَرَ ښکته کېدل ،دامجرد نه لري.

يا داچې مجرد لري خو دمجرد معنا غير وي دمزيد فيه دمعنی څخه لکه: اِسْتَلَمَ اِسْتِلَامًا ډبره مچول مجرد يې سَلِمَ سَلَامَةً سلامت کېدل.

اووم بـــاب دِاِسْـــتِـــفْـــعَـــال دی.

داباب لس خاصيات لري :

١.اوله خاصه طلب دی :طلب مأخذ طلبولو ته وايي لکه : اِسْتَطْعَمْتُ **ما خوراک طلب کړ.**

٢.دوهمه خاصه يې حسبان دی :حسبان د پته وايي :چې فاعل پر مفعول باندي داسي ګمان وکړي چې مفعول د دغه فعل په مأخذ سره د دغه فعل متصف دی، لکه: اِسْتَحْسَنْتُ زَيْدًا **پرزيد مې دښه سړي ګومان وکړ.**

٣.دريمه خاصه يې لياقت دی: لياقت فاعل دمأ خذ لايق اومستحق کېدلو ته وايي لکه: اِسْتَرْقَعُ الثَّوْبُ **جامه دپيوند لګولو لايقه سوه.**

٤.څلورمه خاصه يې وجدان دی: وجدان د پته وايي :چې فاعل د دغه فعل مفعول د دغه په مأخذ سره متصف پيدا کړي لکه : اِسْتَكْرَمْتُ زَيْدًا **زيد مې په سخاوت سره متصف پيدا کړ .**

۵.پنځمه خاصه يې تحول دی: تحول فاعل د مأخذ کېدل یاد مأخذ په شان کېدلو ته وایي لکه: اِسْتَحْجَرَ الطِّيْنُ **خاوره ډبره سوه. یعني: د ډبرې په شان سوه.**

٦.شپږمه خاصه يې اتخاذ دی: اتخاذ فاعل د مفعول مأخذ جوړولو ته وایي لکه : اِسْتَوْطَنْتُ الْحِجَازَ **حجاز مې وطن جوړ کړ د اتخاذ څلور معنا ګانې مخکې تېرې سوې، هلته یې ملاحظه کړئ.**

فائده: د اتخاذ څلور صورتونه دي، لیکن په باب د استعمال کې صرف دا یو صورت استعمالیږي، نور صورتونه یې ، په کلام د عربو کې ډېر رائج او مستعمل نه دي.

۷. اوومه خاصه يې قصر دی: قصر د مرکب الفاظو څخه مختصره کلمه جوړولو ته وایي : لکه: اِسْتَرْجَعَ زَيْدٌ **زید** إِنَّالِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ **وویل.**

۸.اتمه خاصه يې مطاوعت دی: مطاوعت د پته وایي، چې یو فعل تربل فعل وروسته په دې غرض راوړي چې دا معلومه سي چې د اول فعل مفعول دد غه فعل د فاعل اثر قبول کړی دی لکه اَقَمْتُهُ فَاسْتَقَامَ **ولاړمې کړو نو ولاړ سو.**

۹.نهمه خاصه يې موافقت دی: موافقت يوبل دبل باب په معنا کې موافق کېدلو ته وايي:

د اِسْتِفْعَال باب دځلور بابونو په معنی سره راځي.

۱. کله دمجرد په معناوي لکه: اِسْتَبَانَ په معنا دبَانَ بَيَانًا دی، واضح کېدل.

۲. اوکله دافعال دباب په معنا وي لکه اِسْتَجَابَ په معناد اَجَابَ اِجَابَةً قبلول او جواب ورکول.

۳. او کله د تَفَعُّلْ په معنا وي لکه: اِسْتَكْبَرَ په معنا د تَكَبَّرَ دی لويي کول.

۴. اوکله دافتعال په معنا وي لکه: اِسْتَعْصَمَ په معنا د اِعْتَصَمَ دی ټينګ نيول.

۱۰. لسمه خاصه يې ابتداء ده: ابتداء دېته وايي چې دغه باب ديوې معنا لپاره استعمال سي ببله دې چې د ثلاثي مجردو څخه دې راواخستل سي بلکې دشروع څخه ديوې معنا لپاره استعمال سي لکه: اِسْتَأْجَرَ اِسْتِجَارًا کرايدل دامجرد نه لري.

يـا داچې مجرد لري خو دمجردمعنـا غير وي دمزيـد فيـه دمعنى څخه لكه :اِسْتَعَانَ دنامه لاندې وښښتانو صفا كول،ددې مجرد عَوَنَ دى،معنى كومك كول.

اتـــم بـــاب اِنْـــفِـــعَـــالٌ دى.

دا باب پنځه خاصيات لري :

١.اوله خاصه يې لزوم دى : يعني داباب همېشه لازمي استعمالېږي متعدي نه اسـتعمالېږي عـامـه خبره كـه مجرديي لازم وي اوكـه متعدي وي لكه: اِنْفَرَحَ هغه خوشـحاله سـو، مجرد يې هم لازم دى لكه :فَرِحَ ددې معنى ده خوشحاله كېدل.

٢.دوهمه خاصـه يې علاج دى: علاج دېته وايي چې د انفعال باب دهغه الفاظو څخه راسي،دكومو الفاظو اظهار چې په حواسو ظاهره ووسـره كيږي،اوپـه حواسـو ظاهره بـاندي دهغوى اثر وي، لكه: اِنْكَسَرَ هغه مات سو. اِنْكِسَارًا ماتېدل.

٣.دريمه خاصـه مطاوعت دى : مطاوعت دېته وايي،چې يو فعل تربل فعل وروسته په دې غرض راوړي چې دامعلومه سي چې د اول

فعل مفعول د دغه فعل د فاعل اثر قبول کړی دی خو داباب اکثره د ثلاثي مجرد مطاوع جوړېږي لکه: كَسَرْتُهُ فَانْكَسَرَ مات مې کړ نومات سو اوکله نا کله دافتعال دباب مطاوع هم جوړېږي لکه : اِغْتَلَقْتُ الْبَابَ فَانْغَلَقَ دروازه مې بنده کړه نو بنده سوه.

۴.څلورمه خاصه موافقت دی: موافقت یوباب دبل باب په معنا کي موافق کېدلو ته وايي:

دانفعال باب د دوی بابونو په معنی کیږي.

۱. کله دمجرد په معناوي لکه: اِنْطَفَأَتَ النَّارُ په معنا دطَفِئَتِ النَّارُ اور مړ سو.

۲. اوکله دباب افعال په معناوي لکه : اِنْحَجَزْتُ په معنا د اَحْجَزْتُ دی، زه حجاز ته ورسېدم.

۵.پنځمه خاصه يې ابتداء ده: ابتداء دېته وايي چې دغه باب دیوې معنا لپاره استعمال سي ببله دې چې د ثلاثي مجرد و څخه دې راواخستل سي بلکي دشروع څخه دیوې معنا لپاره استعمال سي،یا داچې مجرد لري خو دمجرد معنا غیروي دمزید فیه دمعنی

څخه لکه: اِنْطَلَقَ اِنْطِلَاقًا تلل(تګکول) مجرد يې طَلَقَ يَطْلُقُ طَلَاقًا خلاصول.

نهم دِافْعِلَالُ باب دی.

داباب څلور خاصيات لري:

۱.اوله خاصه يې لزوم دی: په اکثره وخت کې دغه باب لازمي استعمالېږي لکه: إِحْمَرَّ إِحْمِرَارًا سور کېدل.

۲.دوهمه خاصه يې مبالغه ده: : مبالغه په مأخذ کې زيادت او کثرت راتللوته وايي.لکه: اِسْوَدَّ اِسْوِدَادًا ډېر تور کېدل.يعني: تکتور سو.

۳.درېمه خاصه يې لون دی : يعني: درنګ معنا پکښې وي لکه هغه پورته مثال يې ذکر سو.

۴.څلورمه خاصه يې عيب دی: يعني دعيب په معنا کېدل لکه: اِحْوَلَّ ،اِحْوالَّ کږو ستر ګو والا کېدل.

لسم باب اِفْعِيْلَال دی.

دا باب هم څلور خاصيات لري.

ددې باب خاصيات هم د اِفْعِلَال دباب په شان دي هغه څلور خاصيات دي کوم چې داِفْعِلَال کي ذکر سوه،هلته يې مطالعه کړئ.خو صرف دونه ويلای سو،چې د اِفْعِيلَالٌ په باب کي مبالغه زياته ده تر اِفْعِلَالٌ .مثالونه يي لوړ کتلای سئ.

يوولسم باب اِفْعِوَّال دی.

ددې باب درې خاصيات دي:

١.اوله خاصه اقتضاب دی : يعني يو فعل د ثلاثي مجرد څخه بغير دابتداء دمزيد فيه څخه استعمالېدل يا په بل عبارت دي يو فعل دشروع څخه دهغه باب څخه کېدل يادثلاثي مجرد يې مطلقًاله يو باب څخه هم نه راتلل دې ته اقتضاب وايي لکه: اِجْلَوَّزَ تېز تگ کول.

٢.دوهمه خاصه يې مبالغه ده: مبالغه په مأخذ کې زيادت او کثرت راتللو ته وايي،مثال لکه: اِجْلَوَّزَ الفرسُ آس ډېر تېز ولاړی.

۳.دريمه خاصه يې لزوم دی: يعني:دغه باب په اکثره وختونو کې لازمي استعمالېږي کله ناکله متعدي هم استعمالېږي لکه: اِعْلَوَّطَ الْبَعِيْرَ اوښ يې تر غاړه ونيوی پر سپورسو.

دولسم باب دِافْعِيْعَال دی.

دا باب درې خاصيات لري:

۱.اوله خاصه يې لزوم دی: يعني په اکثره وختونو کې دغه باب لازمي استعمالېږي لکه: اِحْدَوْدَبَ اِحْدِيْدَابًا. ملاوتلی کېدل.

خو کله کله متعدي هم استعمالېږي لکه: اِحْلَوْلَيْتُهُ خوږ مې وباله.

۲. دوهمه خاصه يې مبالغه ده: مبالغه په مأخذ کې زيادت او کثرت راتللو ته وايي،مثال لکه: اِعْشَوْشَبَت الارض ځمکه ډېره شنه سوه يعني ډېر وابنه يې وکړل.

۳.دريمه خاصه يې مطاوعت مجرد دی: مطاوعت دېته وايي،چې يو فعل تربل فعل وروسته په دې غرض راوړي چې دامعلومه سي چې د اول فعل مفعول دفاعل اثر قبول کړی دی لکه: ثَنَيْتُ الثَّوْبَ فَاثْنَوَىٰ جامه مې وپېچله نو وپېچل سوه.

۴.څلورمه خاصه يې موافقت اِسْتِفْعَالْ دی: موافقت يوباب دبل باب په معنا کې موافق کېدلو ته وايي: دلته هم دغه باب د استفعال دباب په معنی دی، لکه: اِحْلَوْلَيْتُهُ په معنا د اِسْتَحْلَيْتُهُ خوږ مې وبولی (وباله).

فائده: دوې ورستنې خاصې په دې باب کې ډېر لږ استعمالېږي.

د ثلاثي مجرد او مزيد فيه بابونه خلاص سول اوس د رباعي مجرد او مزيد فيه بابونه شروع کيږي، په رباعي بابونو کې اول باب درباعي مجرد و باب دی.

درباعي مجرد خاصيات:

درباعي مجرد اول باب د فَعْلَلَةٌ باب دی.

ددې باب خاصيات ډېر دي خو موږ يې دلته يو څو مشهور راوړو.

۱.اوله خاصه يې قصر دی: قصر د مرکبو الفاظو څخه مختصره کلمه جوړولو ته وايي لکه: بَسْمَلَةٌ چې د بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ څخه مرکب دی.

٢.دوهمه خاصه يې الباس مأخذ دی : الباس مأخذ دپته وايي:چې فاعل په مفعول باندې مأخذ واغوندي لکه: بَرْقَعْتُها ، ماهغې ته برقعه(چادري) يا شال پرسر ورواچوی.يعني: ورامي غوستی.

٣.درېمه خاصه يې اتخاذ دی :اتخاذ مأخذ جوړولو ته وايي، لکه: قَنْطَرَ زيدٌ زيد پول جوړکړو.

٤.څلورمه خاصه يې تَعَمُّلُ دی :تعمل دپته وايي:چې فاعل د دغه فعل مأخذ د دغه فعل په کار اوچوي، لکه : زَعْفَرْتُ الثَّوْبَ جامه مې په زعفرانو ورنګوله.يعني:زعفران مي په کار واچول.

٥.پنځمه خاصه مطاوعت خود دی : مطاوعت خود خپل ځان مطاوع جوړولو ته وايي لکه: غَطْرَشَ اللَّيْلُ بَصَرَهُ فَغَطْرَشَ شپې سترګې تاريکې کړې نو تاريکې شوې دلته دادوه فعلونه دیوه بابه دي اول مطاوَع دی دوهم مطاوِع دی.نوځکه ورته مطاوعت خود وايي.

درباعي مزيد فيه دبابونو خصوصيات
درباعي مزيد فيه درې بابونه دي.

اول دتَـــفَـــعُـــللُ دبـــــاب دی.

داباب دريې خاصيات لري :

١.اوله خاصـه يې مطاوعت فعلل دی : مطاوعت دپته وايي،چې يو فعل تربل فعل وروسته په دې غرض راوړي چې دامعلومه سي چې د اول فـعـل مفعول د دغـه فعـل د فـاعـل اثر قبول کړی دی لکـه: دَحْرَجْتُهُ فَتَدَحْرَجَ ګبل مي کړ (ومې رغړاوه) نو ګبل سو.

٢.دوهمه خاصـه يې اقتضـاب دی : يعني يو فعل د ثلاثي مجردو څخه بغير دابتداء دمزيد فيه څخه استعمالېدل يا په بل عبارت دیو فعل دشروع څخه دهغه باب څخه کېدل يا ثلاثي مجرد يې مطلقًاله يو باب څخه هم نه راتلل دپته اقتضـاب وايي لکه: تَهَبْرَسَ هغه په نـاز او نخروسـره ولاړو.دا مـاده پـه مجردو کښـې نـه ده اسـتعمـال سوې،او د داسي ملحق حرف او زائد حرف څخه خالي دی،چې ديوې معنی لپاره راځي.

٣.دريـمـه خاصـه يې تَحَوُّلُ دی:تحول په لغت کي ګرځولو ته ويل کيږي اوتحول پـه اصـطلاح کي دپتـه وايي:چې فـاعل د دغه فعل مفعول د دغه فعل مأخذ دغه فعل جوړيا دمأخذ په شان جوړ کړي

لكه: تَزَنْدَقَتْ زيدً زيدمي زندیق جوړ کړو یعني: خپل دین یي پرېښوی،دبل دین ته تحول وکړئ.

دوهم باب دِافْعِنْلَالٌ دی.

دغه باب هم درې خاصیات لري :

١.اوله خاصه يې لزوم دی :یعني په اکثره وخت کې دغه باب لازمي استعمالېږي لکه :اِتْعَنْجَرَ معنی : بهېدل.

٢.دوهمه خاصه يې مطاوعت دی: مطاوعت دېته وایي،چې یو فعل تربل فعل وروسته په دې غرض راوړي چې دامعلومه سي چې د اول فعل مفعول ددغه فعل د فاعل اثر قبول کړی دی لکه: تَعْجَرْتُهُ فَاتْعَنْجَرَ مادهغه وینه وبهېوله نو وبهېده.

٣.دریمه خاصه ارتجال دی :داهم داقتضاب په معنا دی، یعني: یو فعل د ثلاثي مجردو څخه بغیر دابتداء دمزید فیه څخه استعمالېدل یا په بل عبارت دیو فعل دشروع څخه دهغه باب څخه کېدل یاد ثلاثي مجرد یې مطلقًا له یو باب څخه هم نه راتلل دېته اقتضاب یا ارتجال وایي لکه اِعْرَنْفَظَ هغه خفه سو.

دريـــم بـــاب دِاِفْـــعِـــلَّا ل دی:

دا باب هم درې خاصيات لري: هغه خاصيات دي کوم چې دِاِفْعِنْلَال کي وو، مکمل بحث يي مخکي تېر سو.

سرچينه: (۱).

۱- خاصيات الأبواب. عربي.

اعداد: الشيخ طاهر صديق الأركاني.

خاصيات الأبواب. پښتو

مرتب: قاري سيد بشير احمد منګلوري.

خاصيات الأبواب. اوردو.

تاليف: مفتي عبدالغفور صاحب.

د مولف نور علمي اثار:

د مفتي خادم احمد «سعيد» په قلم ليکل سوي علمي أثار.

أصول الحديث:

١-الخير الأكبر في مباحث الحديث المرسل. -مكمل. عربي .غيرمطبوع.

٢-التعارض والترجيحات بين الأحاديث المتعارضة. -مكمل. عربي. غيرمطبوع.

٣-الفوائد الضرورية للإجراء في علوم الحديث. -مكمل. پښتو. غيرمطبوع.

٤-تعليق على تيسير مصطلح الحديث -مكمل. عربي. غيرمطبوع.

٥-الاهتداء في تحقيق كتابة النساء. عربي. مطبوع.

٦-الترغيب الى الترحيب. -مكمل. عربي . غيرمطبوع.

فـــقـــه:

١-الفتاوى الخادمية -٧ جلده- غير مكمل. پښتو ،مطبوع.

٢-خير المقال في مسائل روية الهلال- مكمل. عربي. غيرمطبوع.

٣-الطالع في اختلاف المطالع. -مكمل. عربي. غيرمطبوع.

٤-خير البشارة في أحكام الإشارة بالسبابة. -مكمل. عربي. غيرمطبوع.

٥–خير الكلام في اللـهم انت السلام . –مكمل. عربي (مطبوع).

٦–خير المآل في مسألة التعزير بالمال . –مكمل. عربي. غير مطبوع.

٧–خَير الهِمّة في سُنية التهنئة و بِدعيّة الُمصافحة والُمعانقة ا لُمروّجة بَعدصلوة العيدَين وصَلوة الجُمعَة وصَلوات الخَمسَة . – مكمل. عربي . غير مطبوع.

٨–د ډودې څخه مخكي او وروسته دمالګي څكل څه حكم لري. –مكمل. پښتو(مطبوع).

٩– (دسهار لمانځه څخه وروسته خوب كول څه حكم لري ؟) – مكمل. پښتو(مطبوع).

١٠–الخَبَر إلى العشّاق في مسائل السِواك. – مكمل. عربي. غير مطبوع.

١١– فضل المولىٰ في تحقيق نكاح يوسف وزليخا ديوسف (عليه السلام)او زليخا نكاح سره كړي ده او كنه؟.–مكمل. عربي (مطبوع).

١٢– خير الخبر في مباحث الوكيل المسخر–مكمل. عربي. غير مطبوع.

١٣–الهداية في مسائل الأمرد واللواطة. غير مطبوع.

مختلف فنون:

١–المقدِمة لِعلم المنطق. –مكمل. عربي .غير مطبوع.

٢–الحاشية على ايساغوجي. –مكمل. عربي . غيرمطبوع.

٣– دسيفيانو په اړه مفصل بحث. –غير مكمل. پښتو . غيرمطبوع.

٤– الضوابط المشهورة في حل التراكيب العربية . غيرمطبوع.

٥–علامات الابواب. (مطبوع).

٦–الحاشية على تيسير المنطق . – پښتو . مكمل. (مطبوع).

٧–كامياب شاگرد. مطبوع.

٨–سعيد الصرف في تشريح ارشاد الصرف. مطبوع.

٩–دحضرت خضر عليه السلام او حضرت موسى عليه السلام،دعلمي سفر څخه،د قرآن كريم او احاديثو په رڼاكي،دشاگرد او استاد لپاره (٨٠)آداب.مطبوع.

١٠- اَلتَّرَاكِيْبُ الْمُشْكِلَةُ مَعَ قَوَاعِدِالنَّحْوِيَةْ وَتَحْقِيْقِ الصَّرْفِيَةْ،مَشْتَمِلَةٌ عَلَى مِئَتَيْنِ وَخَمْسِيْنَ تَرْكِيْبًا. **يعني:دوه نيم سوه(٢٥٠) مشكل تركيبونه سره دصرفي تحقيقه.دكتاب په سركي د نحوي يوڅو ضروري قاعدې.(مطبوع).**

١١–خاصيات الأبواب. (مطبوع).

١٢–دطالب العلم لپاره يو څو ضروري فائدې. غيرمطبوع.

١٣–فتح العناية في تشريح شرح الوقاية.

١٤–سعيد النحو في تشريح نحومير.

مجموعة (٣٣).

دليکوال سره د اړيکو شمېرې:

٠٧٠٦٩٨٠٧٥٨ او ٠٧٤٩٩٣٠٥٥١

****